عبدالله نجات ۲۰۰۹/۰۱/۲۲م

# سیمه ایزه ربړه او د تروریزم په وړاندي مبارزه

قسمت اول

په بله وینا روانه جګړه دنړېوالو ځواکونو لپاره هدف ده که وسیله ؟ آیا دوی دلته جنګیږی چی ځان په امن کړی که ددی جګړی په پلمه په سیمه کی خپل حضور ساتی چی کوم بل هدف ته ورسیږی؟دترهګرو لپاره دا جګړه څه حیثیت لري؟جنت ته دتللو لپاره وسیله ده که حکومت ته درسیدلو لپاره جنګ؟او یا هم دبل په اشاره دپیسو ګټلو لپاره دکار او دندی حیثیت لری؟
کوم ټکی او پو ښښتنی چی زمونږ مخی ته پراته دی ایجابوی چی دسمی ارزونی پخاطر هغه اساسی سرچینی او لاملونه وپېژنو چی دغه ټکی او پوښتنی پری ولاړی دی نو لدی کبله دحالاتو سرچینو دپېژندنی اساسی ټکو ته په مقدماتی تو ګه پاملرنه کوو .

د فکری شالید دسیاسي سایکالوژي څو بنسټیز ټکی - نړېواله ټولنه

الف- په نژادی تبعیض باور لرل

که چېری دقام او فرهنګ په څېر ټولنیزوټولنیزو پدیدو ته بیولوژیک او طبیعی مفهوم ورکړو او دیوی خاوری اوسیدونکی په یوی قومی لړی او هیرارشۍ کی سره راټول کړو د قوموالنی او نژادی باور تر مېنځ مو ډېره نږدی اړیکه ټینګه کړی ده.دقومیتوب او توکموالی ایدیالوژی د«خپلو » او«پردیو» خواو له ایډیالوژیواو ثابتو واحدونو سره اړیکی لری چی په ډانګ پیلی توګه ارزښت ټاکنو سره تړاو لری..
که څه هم بیولوژیکی نژاد پالنی په اروپا کی په نولسمه پېړی کی سر راپورته کړخو جړ ی او مراندی یې تر لرغونو پېړیو پوری غځیږی .دغه توګه په یونان ،چین او هند ټولو کی لرغونتوب لری.
نژادی ګروهه ایدیولوژی ده. او ایدیالوژي هم دډېرو مفهومی پیچلتیاو او ستغنو تعریفونو تر څنګ داسی څرګندیږی چی په متقابله هر اړخیزه اړیکو او عکس العملونوکی مادیت مومی او دپوهی دېسکورس شنني او تاویلونو سره نغښتی ټولګه یې بللی شو .چی دواکمنی له تولید او بیا راتوکېدو سره مرسته کوی .دپوهی شکلونه چی بېلابېلی انګېرنی دمقولی او دپوهی او سوچ سیستمونه پکی رانغاړل شوی په کړنو او وېناییځه ټولګو او سترکچرونو کی هستی مومی .په کلام او عمل کی ګډون ،پوهه پنځی چی په ایډیاله بڼه کی دواکمنی جسمانی او ذهنی منښتی ته رسیږی . نو پدی توګه پوړیزه طبقاتی ټولنه کی دوګړو ټولنیزه منښته – ټولنیزه کېدنه ـ منل شوی ټولنیزه کېدنه ده .چی واک او قدرت ته غاړه ږدی .
په یوه داسی بهیر کی ایدیولوژی دیوه په بډه وهونکی او غولوونکي عامل حیثیت لری چی دحاکمیت پرټولنیزو تضادونو او دګټو پر مخامختیاوپرده اچوی. کاذبه پوهه ،دغه شانی پوهه بېلاری کوونکی ده ،ولی چی دټولنیز واقعیت دپنځېدو او دجولی په رامینځ ته کېدو کی برخه لری .ایدیالوژی داقتصادی او ټولنیزو شرایطو تر څنګ په ورځنیو کلامیزو ټکو او مفهوماتی اډانو کی دبرلاسۍ لپاره دخپلو حاملینو په ژورو ټولنیزو هڅو پوری هم تړاو لری .توکمپاله ایډیالوژی ،بیولوژیکی او کلتوری ځانګړتیاوله نظره انسانان په نه بدلیدونکی،یو شانی ډلیزو واحدونو ډلبندی کوی .ثابته او یو شانی ډله کېدای شی ملت ،قام یا یوه تمدنی برخه (حوزه) وی .چی د«خپل » او «پردی» تر مېنځ دبېلتون له مخی ځان وپاړلی او هغه بل سپک او ټیټ وبولی .په نژادی اندوواند او لید لوری کی ځانګړنی او خصوصیتونه ثابت او ازلی دی او دانسان او دټولنیزو مناسباتو جوهر او څنګه والی هم ټاکی .یانی نژادی سوچ او انګېرنه ټولنیزو لاسبریاو او ټولنیزو اړیکو ته بیولوژیک او طبیعی ځانګړتیاوی مني او پدی توګه ټولنیز تاریخ او اړیکی په طبیعت بدلوی .دنژادی لیدلوری ایدیالوژی دښتون او بریالیتوب لپاره او دغه شانی وېش ته دارزښت ورکولو لپاره قدرت ته هم اړ دی .ولی چی دغه قدرت دده دریځ او بیان ته دتعریف او پېژندګلوی وس او هستی ورکوی .په توکمپاله دریځ کی دیالکتیکی ځانګړتیا په اوښتی ډو ل ځای لری .پدی مانا چی «پردي» ټولنیز جوړښت تر څنګ «خپل» ټولنیز جوړښت هم ځای لری او د «پردی» مخالف لوری دښکته والی په وړاندی« خپل» پورته والی پروت دی. دهغه «پردی» منفی ځانګړتیاوی د«خپلی» ډلی دمثبتو خصوصیاتو لپاره هنداره ګرځی .نو دغه نژادپاله ایډیولوژی هم منی او هم ردوی . «پردیو » نه ځان بېلوی او «خپلو» سره خپلیږی .لدی امله نژاد پالونکی ایدیالوژی د«خپل» او «پردی» جوړوونکو ایدیالوژیو لکه قومی او نژادی فاشیزم غبرګه او همزولی خور ده دمعاصری نژادی تبعیضی عقیدی یوه اصلی ځانګړنه داده چی دیوه قام او نژاد بیولوژیک خصوصیات دهغوی روحیاتو ،اخلاقو او دژوند ژواک څرنګوالی سره تړی .په دی مانا چی نژاد دفرهنګ انتقالوونکی او دانسان دجوهر ښکارندوی دی .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

پدی اندود او انګیرنه کی ښکاری داسي چی نژاد جوړونه د نژادی ګروهی یو مهم توکی دی، بی لدی چی په نژاد عقید منه ایډیالوژی هغه هرو مرو د خپل شتوالی مخکنی شرط و ګڼی. نژاد جوړونه پخپله د ټولنیزی جوړیدنی یوه برخه ده. پدی بهیر کی نژادی عقیده خیالی نژادی جوړو شویو ډلو ته ټولنیز مقامونه ټاکی.ارزښت ټاکنه د نژادی ارزونی مهم صفت دی چی نه یوازی په ټولنه کی د انسان ځای ټاکی دغه راز د هغه په شتون او ناشتون هم پریکړه کوی . نو د نژادی ګروهی اصلی او عملی موخه د واکمنی تولیدول او د ټولنیزو نابرابریو را ټوکول او مشروعیت ورکول دی .. نژادی ګروهه په (خپل ) پالنی او (پردی) رټنی سره د (خپلو) ټولنیزه ملګرتیا ترلاسه کوی . او (پردی ) د( خپلو) تر سیوری لاندی راځی .

دنژادی انګیرنی بله پایله یو شانی کیدنه یا یو شانی توب دی او د ټولنیزو تو پیرونو په هیرولو او له پامه غورځولو سره ټولنیز واټونونه له پامه غورځوی د فاشیزم د ایډیالوژی مراندی نژادی ټکی و. فاشیزم ورټل شو او نړیوالی ټولنی هغه وغانده او نژادی ویشنه د انسانی ټولنی په اړه غیر علمی و ارزول شوه. خو سره ددی په لویدیز کی نژاد پاله ایدیولوژی په ځای پاتی شوه او نویو حالاتوسره په سمون کی پرمخ ولاړه.

دلویدیز ځینو پوهانو نژاد پالونکي عقیده په لویدیزکی دملی دولتونو او کلونیالیزم یوه اصلي ځانګړنه او هغي پوري تړلی برخه وبلله چی د شلمی پیړی پیل او پای یی بیلابیلی بڼی څرګندوی. او پدی نظر دی چی د شلمی پیړی په دویمی نیمایی کی په دریمی نړی او وروسته پاتی نومول شویو هیوادونو کی چی له بربنډ اونیغ په نغیه نیواکه ووتل نو د ښکیلاك او ځبېښاک چارچلن او شکلونو بدلون و موند. نو نژادی لاروچارو کی هم بدلون را مینځ ته شو .

د مستقیم فزیکی استثمار او تړاو ځای نویو پیچلو شرایطو و نیو ،او د نژادی د باو او باور لوری فرهنګی او اقتصادي نیواک په لور غځونی وکړی. چی فرهنګی نژادی تګ لاری سهیلي_ دریمی نړی کی د ډلیز او ټولنیز ژوند را چاپیرولو ته مخه کړه .د شلمی پیړی دی نوی بهیر د نژاد پالنی فرهنګی سکنی لارویان را مینځ ته کړل، چی که څه هم دوي نظریی پر توکمیزی_ نژادی مقولی ولاړی نه وی ،خود دغو نژاد باوره فرهنګی لارویانو د استدلال مینځ زړی دفرهنګونو بېلابېلوالی‌او دهغوی ترمېنځ نه کډیدونکی کرښی او لاری دي . د دوی په پایلیزو ارزنوکی فرهنګي بیلابېل ثابت هویتونه او دهغوی تر مینځ ثابت واټنونه په پام کی نیول کیږی . یانی په دی فرهنګی هویتونو کی هر څه له مخکی ټاکل شوی او هر څه له مخکی ارزول شوی او هر څه د هری فرهنګی حوزی ازلی هویت پانه جوړوی دلته د ټولنو فرهنګی برخلیکونه ټاکل شوی دي. پدی نژادی اندود کی چی تګلاری له مخکی ټاکل شوی د فرهنګونو نږدیوالی او ګډون یو ګواښمن اوله خطرو ډک کاردی .نو دغه فرهنګی توکموالهٔ(نژاد پالنه) عقیده د (خپل) فرهنګ ساتنه او پدی اړوند د جغرافیایی پولو ټاکنه یو طبیعی ضرورت دی . فرهنګی نژادی ګروهه فرهنګی توپیرونه د طبیعی پدیدو له توپیرونو سره یوشانی ګڼی. پدی نژاد پاله اندود کی ټول واټنونه او ارزښتونه او دندی او مقامونه له مخکی ټاکل شوی دي.

دغه فرهنګی نژادی لیدلوری لکه بیولوژیک لیدلوری ته ورته د قدرت پلی کولو مفهوم سره لاره شریکوي . چی دلته هم وګړی اړدی چی (خپل) او (پردی) بریدونه یا په بله ژبه خپل ځای و پیژنی .

دلته فرهنګ لکه طبیعت وچ او ډبرین او نه بدلیدونکی او دکاڼي کرښه ښکاري. . دلته فرهنګ د یوی تاریخی او ټولنیزی پدیدی او مقولی په انداز نه کتل کیږی.دکلتوری نژادی عقیدی لارویان واټنونه – ځایونه منی او هغه سپیڅلی بولی.( پردی ) اوله پردي وېره ، دلته برلاسه او لاس لاندی ، کمزورو او زورورو دواړو خوا ته منظوره ده . خو دا چی انسانی اړیکی او اړتیاوی وګړی او جماعتونه او ټولنیزی ځانګی یو بل ته ورکاړی نو پر دی څخه وېره ،زورزیاتی او تاوتریخوالي سره ملګری کیږی. پدی ایدیولوژیکه اندنه کی د نژادی تعلق پرځای په نژادی او قومی عقیدی ولاړ دریځ یوه طبیعی هستی او سپارښتنه ګرځی . بنسټ پالنه او د هغی تریخ او له کرکی ډک غبرګون له همدی لیدلوری را ټوکیږی او کله چی د ارزښتونو د سپیناوی جګړه سر راپورته کړي نوبیا ټولنیزي-تارېخي پولي راپرېووځي او ناورنیونه او تاړاکونه هم را مینځ ته شی .

پوښتنی شته چی ځوابونه غواړی آیا فرهنګ ساتنه او پالنه یوشانی مانا لری ؟

فرهنګ کی راکړه ورکړه شته که نه ؟! د فرهنګونو دشمنی پخلاینه او ملتیا یانی څه؟ په همدی ترڅ کی خپلی پښتو ته را ګرځو څه کول پکار دی ؟ په پښتو کی پاتی کیدل څه او د پښتو نوی کول څه ؟ ولی او لاری کومی دی !؟

ستونځه داده چی کلتوری قومی یا توکمیزه عقیده،فرهنګ په یوه سنت بدلوی او کله چی سپیڅلی و انګیرل شی نو بیا به بدلون او نوښتوب پی خبری کول پرګړنګونو ختل او سپیڅلتیاو سره ډغری وهل غواړی . که توکمپانله غربی موډرنه شوی ایدیوالوژی اویا فرهنګی ارزښتمنتیا ده که شرقی که دینی که دنیوی خو هرڅه د (خپل) تر سیوری لاندی وینی. دغه (خپل) هم په ځان کی پر (یووالی) او کره توب ټینګار کوی او پرته له خپل غږ نور غږونه نه اوری اویایی د وېلېتوب او ورکاوي غوښتنه لری ،او دژوند دچارو له بهیره بې باسي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ب- خو دو همه خبره د ښکیلا ک ده

جی تر دی دمه د ناروا و کانیزه کرښه پاتي شوېده .استعمار په زور زیاتی او دفنی او علمی وړتیاپه ملتیا ډیر هیوادونه لاندی کړل اوددي لاري تکل اوډتولو کړنو تر څنګ ایدیالوژیو هم ورسره لاری څارلی اودتاړاکونو برياوی ټولي ویاړ ګڼل کیدی. یرغلونه او تاړاکونه تاریخی صواب بلل کیده .او ټوله پوهه پدی را ماته وه چی خپلی ګټی د پردیو په زیان او ورکاوی کی لوړتیا او عین ثواب شمیرل کېده. استعمار پر ودانولو او متمدن کولو مامور و . دغو چارو ترسره کولو لپاره د انګیزو او فکری عقیدتی ملګرتیاو اړتیا په سموبولونو او اتلوالیو پالل کېده .که دسوبی او بریا ودانی د انسانانو په غوښو او هډوکو هم جوړېدی خو همدغه چاری دتاریخونو زریني پاڼی وی .او نسلونو همدغه کړنی(خپل) تاریخ او افتخارات ګڼل. تاریخ بی له هغه هم د پیښو ټولګه وه چی څومره به ېی د زور زیاتی او خرپ و ترپ چړقونه اوانګازی اوچتی وی ( خپلوی) به هماغومره غټیده . ټولی بریاوی او لاس ته راوړنی د تمدن سوغات بلل کیدی .زوړ استعمار جامه بدله کړه نوی ملتونه او دولتونه راوټوکیدل خود تمدنی اړیکو راکړه ورکړه جاری پاتی شوه.لومړی او دوهمی نړیوالی جګړی په نړیوالو مناسباتو کی ژور بدلونونه را مینځ ته کړل . دی ټولو بدلونو او پر مختګونوسره سره د واک او ځواک پر زیرمو برلاسی او دی سره جوخت خشونت اوزور زیاتي نوي واټنونه پرانېستل .

د نیواک او زبیښاک او دبی عدلاتیو او ګواښنو لاملونه پر ځای پاتی شول. پدی کی شک نشته چی استعمار اوس د پخوا په شان وچ نیواک او زور کارونولو څخه کار نه اخلی. مستعمره ګرځول اوس په پخوانی دود او لوڅی بربنډی برلاسی اولاسوهني سره ځای او کاریدنه نلری د پوهېدو جوهري ټکی دادی چی لا تراوسه سره ددی چی دین او ټولیز اخلاق د زور زیاتیو او جنایتونو کلک مخالف دی . خو تر دی دمه د ډله ایزه جرمونو او تاړاکونو مجریانو او کاروونکو او د یرغلونو اوزور زیاتیو تاریخی مخکښان پټ او خوندی پاتی شوی دی . د ښکیلا ککړ و په تاریخی زده کړو کی یی د راتلونکو نسلونو د پوهاوی لپاره رښتیا ویل اوس هم ملی تاریخی سپکاوی ګڼل کیږی . متمدن غرب لا اوس هم دانتقاد په ګرېوانه کی سر نده ټيټ کړی . د پېرنګی او نورو ښکیلا ککړ و تاریخ ددی ملتونو لپاره د ویاړنو ټولګی شمېرل کیږی . غربی تمدن له ټولو لاسبریاو او پر مختګونو سره سره په نړېواله کچه د ارزشونو او منابعو او منافعو عادلانه وېش او چلند ته غاړه نده ایښی ، نړیواله کیدنه ددی پر ځای چی زړونه او منافع ګډی کړی د تو ٍپیرونو او اجتماعی تضادونو واټنونه یی نور هم ژور اوله اور او سکروټو ډك کړی دي . لدی کبله چی نورمال حالت د ژوند په چارو کی ځای نلری . د وړ او منلو ارزښتونو په وړاندی هم منفی غبرګون او حساسیتونه ښودل کیږی . په نړېواله کچه بی عدالتیو او اقتصادی- ټولنیز و ژورو واټنونو نا غیری او د طبقاتی تضادونو تر څنګ د سیمه ییزه حوزو او د هېوادونو په چوکات کی طبقاتی قومی واټنونه، او د شمال او جنوب او بډایه او بی وزله هیوادونو تر مینځ تو پیرونه لا ژور او کړکیچن شوی دی . کرکو او نفرتونو د ایدیالوژیو اور نور هم تاوجن او سوځوونکی کړی دی .

د بډایه هیوادونو تمدن وروسته پاتی هیوادو ته رغوونکی محسنات او تومنه ور نه کړه او نه یی د تیرو نا دودو له املـه څه بخښنه وغوښته . بډایه ځواکونو که پخوانی دو د بدل کړ اوس یی پرمختیا یی مرستو په پلمه د وروسته پاتی نړی چپاوته نوی لاری او ذهنیتونه جوړ کړی او ځایی لاسپوڅو او سپوږمکیو سره په ګډه ملګرتیا کی یی ټولنیزی- اقتصادی ستونځی لانوری هم ځواکمنی کړی دی . دلویدیز پوهاند دفرو خبره "د مستعمرو تر خپلواکه کیدو را دیخوا، نوی شانی استعمار را مینځ ته شوی ، ښکیلاک شته خو ښکیلاک ګرنه تر سترګو کیږی . نوی استعمار کولی شی ښکیلاک پرېښودلو سره ځان برابر کړی او پرته له دی چی په خاوره واکمنی ولری خپل شتون ته دوام ورکړی ". د وروسته پاتی هیوادو بډای مرکزونو سره خپلوی ددی سمسکي توب یوه لاره ده .

استعماری کلتور خپل اغیز پری ایښی، ولی چی کومه ایډیالوژی او ارزشی میراث چی له دغه دوده را ټوکیدلی ؤ په ماغزو او ایدیالوژیو کی یی ځان ساتلی ، کله چی ګټی او ارزښتونه یو له بله نوک او اوری شی، نو بیا د ارزشونو تر مینځ تاوتریخوالی او نه پخلاینه په خپله د ژوند هڅوب ګرځی .دلته دیوه ټکي یادونه دخپل فکري اندازاو لرلید دملاتړ له مخي اړين ګڼم او هغه داچی دملتونو هڅوبيزي خواوی ښايي يو تر بله توپيرونه ولري او ضرور هم نده چی يوشانی وي خو دغه توپيرونه نه ابدي دي نه ميراثي او بدليدونکي دي يو تر بله اغېز مني او يو پر بل اغېز شېندي .دزدکړو او فکري نظراندازونو راکړه ورکړه تل وه او وي به .دخلکو دفرهنګونو تر مېنځ ابدي ،ازلي واټنونه او د(چين دېوالونه) ندي پراته .دغه فکري او نظرياتي راکړه ورکړه اړينه ده او ښايي ورته جدي پاملرنه وشي .استعمار او استعماري سوچونو اوسیاستونو سره دمبارزي ترڅنګ باید غربي نړي سره دعلمي او کلتوري پوهي دراکړی ورکړی لاري نږدی او شريکي کړو .که څوك غواړي او که نه دغه دانساني ګډو اړتياو تعامل به موجود وي خو ښه داده چی دټولیز انتقادي دود پر بنسټ خپلو زدکړو ته دوام ورکړو. باقی دارد


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de